لوړو زده کړو وزارت

خراسان پوهنتون

علمي چارو معاونیت

# د علمي څېړنو پالیسي

۱۴۰۰ هـ ش

(۵) شماره پروتوکول کې ثبت ده.

## د علمی څېړنو پالیسی:

دا چه علمی تحقیقات د پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسساتو د اساسی او عمده وظایفو څخه شمیرل کیږی نو ایجاب کوی چه د پوهنتونونو د فعالیت دا ساحه داسی تنظیم شی چه د پوهنتونونو استادان او علمی کادر تشویق شی چه د ملی اقتصاد په هغو برخو کښی علمی څیړنی ترسره کړی چه له نتایجو څخه ئې د هیواد د اقتصادی انکشاف لپاره استفاده وشی. ځکه څیړنه ده چه نواوری کوی او اقتصاد د انکشاف لوړو پوړیو ته رسوی. ننني انکشافات او پرمختگونه ټول د علمی څیړنو په نتیجه کښی رامنځته شوی او ورځ تر بلی د ژوند ټولی برخی په بر کښي نیسی.

د همدی علمی څیړنو له برکته ده چه په تولیدی پروسه کښی داسی شیانو ځای نیولی چه پخوا ئې حتیٰ تصور هم نه کیده. دا چه علمی څیړنی د یوی خوا خورا زیات لگښتونه ایجابوی او د بلی خوا هره علمی څیړنه بعضاً راساً د هدف د لاس ته راوړو باعث نه کیږی نو د دی لپاره چه دا مصارف حداقل او په نسبی توگه هدف ته نیژدی شوی اوسو باید علمی تحقیقات په یو چوکاټ کښی تنظیم او یوه پالیسی ورته تعین شی. په همدی اساس هم خراسان پوهنتون خپله د علمی څیړنو پالیسی په لاندی توگه ارائه کوی تر څو د تدریس تر څنگ استادان وشی کولای علمی څیړنی ترسره او له نتایجو څخه ئې په تولیدی – خدماتی پروسه کښی استفاده وشی:

1. له هرڅه د مخه استاد باید هغه موضوع چه غواړی تر تحقیق او څیړنی لاندی ئې ونیسی د دیپارتمنت په غونډه کښی مطرح او د غونډي د گډونوالو له تائیدی څخه وروسته ئې د دیپارتمنت د غونډو په کتاب کښی ثبت کړی.
2. د دیپارتمنت د غونډی له تائید او ثبت وروسته موضوع د پوهنځی د علمی تحقیقاتو کمیټی سره مطرح او د نوموړی کمیټی تائیدی هم تر لاسه کړی.
3. د څانگی او تحقیق کمیټی له تائید ورسته باید موضوع د دیپارتمنت له طریقه د پوهنځی علمی شورا ته وړاندی او د نوموړی شورا تائیدی تر لاسه او هم د هغی شورا د غونډو په کتاب کښی ثبت شی.

د خراسان پوهنتون د علمي څیړنو پالیسي  ددې پوهنتون د علمي شورا په (۵/ اسد/ ۱۴۰۰ ) تاریخي غونډه کې مطرح ، درائیو په یووالي سره تائید او په (۵) شماره پروتوکول کې ثبت ده.

4. د پوهنځی په علمی شورا کښې د مطرح کیدو او تائید وروسته باید د پوهنځی له طریقه رسماً د پوهنتون د علمی څېړنو کمیټې ته ارائه، د نوموړی کمیټې تائیدی تر لاسه او هم دی د هغې کمیټې د غونډو په کتاب کښې ثبت شی.
5. د پوهنتون د علمی څېړنو له تائید وروسته دی موضوع د پوهنتون د علمی تحقیقاتو مرکز ته د ثبت پخاطر واستول شی او په نوموړی مرکز کښې له ثبت وروسته دی د موضوع په څېړنه پیل وکړی.
6. که چیری د موضوع په څېړنه او تحقیق کښې له یو څخه زیات اشخاص دخیل وی نو په څېړنه کښې دی د هر یو سهم واضح شی.
7. که چیری څېړنه کمی جنبه ولری نو څېړونکی استاد یا استادان کولای شی د ارقامو د جمع اوری لپاره د مسلک له محصلینو هم مرسته تر لاسه کړی.
8. د تحقیق د کمی جنبی په پام کښې نیولو سره دی محقق له موضوع څخه یو معیاری او هر اړخیر احصائیوی تحلیل ترسره او مسایل دی مستدل کړی.
9. که چیری تحقیق پداسی نتیجه منتج شی چه په تولیدی – خدماتی پروسه کښې تری استفاده وشی او د یو ټاکلی مبلغ په مقابل کښې د دولتی یا غیر دولتی موسساتو په واک کښې ورکول کیږی نو پدی صورت کښې د لاس ته راغلی عاید (۲۵) فیصده په محقق پوری تعلق نیسی.
10. د څېړونکو د علمی تحقیقاتو د هماهنگ کولو او تمویل کولو پمنظور په پوهنتون کښې د علمی څېړنو مرکز ایجاد او د تحقیق اړوند ټولی چاری تنظیموی.
11. د پوهنتون د علمی تحقیقاتو مرکز له طریقه د ټولو دولتی او غیر دولتی موسساتو مربوط مسایل چه باید علماً تر څېړنی لاندی ونیول شی جمع اوری او د پوهنتون د مربوطو رشتو او پوهنځیو په واک کښې ورکول کیږی.
12. د علمی څېړنو د ترسراوی پمنظور ټول مصارف هم له همدی مرکز له طریقه د څېړونکو په واک کښې ورکول کیږی.
13. د پوهنتون د تحقیقاتو مرکز کولای شی د دولتی او غیر دولتی موسساتو د اړتیا وړ مسایلو د تحقیق او د تحقیق نتایجو څخه د استفادی پمنظور هغوی سره تفاهملیکونه عقد کړی.

14. د پوهنتون د تحقیقاتو مرکز د پوهنتون د تحقیقاتو کمیټې سره په هماهنګۍ سره کولای شي د استادانو او محصلانو د تحقیقاتي پوهې د لوړاوي پمنظور ورکشاپونه او سمینارونه دایر کړي.
15. د نورو دولتي او غیر دولتي موسساتو د اړتیا په پام کښې نیولو سره د پوهنتون تحقیقاتي مرکز کولای شي د هغوی د کارمندانو لپاره د یو ټاکلي مبلغ په مقابل کښې د تحقیقاتي پوهې د لوړاوی پمنظور په نوموړو موسساتو کښې تحقیقاتي ورکشاپونه او سمینارونه دایر کړي.
16. په خراسان پوهنتون کښې د علمی تحقیقاتو فرهنګ ته وده او رشد ورکول.
17. د خراسان پوهنتون د استادانو او محصلانو د علمی څیړنو د لګښتونو د تمویل لپاره د دولتي او غیر دولتي کمکونو جلبول.
18. خراسان پوهنتون به کوشش وکړي چه خپلو استادانو او محصلانو ته د هیواد په داخل او خارج تحقیقي پروګرامونو کښې د ګډون زمینه مساعده کړي.
19. که چیري په علمی تحقیقاتو کښې د محقق علمی غلا او سرقت تثبیت شي او یا واضح شي چه د بل چا د مخه علماً څیړل شوی اثار ئې په خپل نامه کړي نو پدی صورت کښي نوموړی پوهنتون ته د ټولو هغو مصارفو په اعاده کولو مکلف دی چه د تحقیق په جریان کښې ئې ترسره کړی دی.
20. د خراسان پوهنتون په علمی مجله (نوی څیړنه) او نورو نړیوالو معتبرو ژورنالونو کښې د استادانو او محصلانو د تحقیقي اثارو نشر لپاره زمینه سازی کول.
21. د خراسان پوهنتون د بیکراو نوو تحقیقي اثارو تثبیت او څیړونکي ئې مادی او معنوی تشویقول.
22. څیړونکي د علمی تحقیقاتو په سرته رسولو کښې دټولو اسلامی، اخلاقي او افغاني ارزښونو په رعایت کولو مکلف دی.
23. نورو علمی – تحقیقاتي ملی او نړیوالو مراکزو سره د اړیکو او همکاریو ایجاد.
24. ملی، منطقوی او نړیوالو علمی څیړنیزو انجمنونو، سازمانونو او موسساتو کښې د غړیتوب د حاصلولو لپاره لازم اقدامات ترسره کول.

د خراسان پوهنتون د علمي څېړنو پالیسي  ددې پوهنتون د علمي شورا په (۵/ اسد/ ۱۴۰۰ ) تاریخي غونډه کې مطرح ، درائیو په یووالي سره تائید او په (۵) شماره پروتوکول کې ثبت ده.

25. د خراسان پوهنتون لخوا د علمی څیړنیزو فعالیتونو د بهتره سرته رسولو پمنظور هر کال یو ټاکلی مناسب مبلغ د نوموړی پوهنتون په بودجه کښي په پام کښی نیول کیږی.
26. هغه تحقیقاتی طرحی چه د ښار د باندی او یا په نورو ولایاتو کښی صورت نیسی د حق التحقیق پرته د اعاشی او اباتی مصارفو مستحق هم دی.
27. په عایداتی تحقیقاتی پروژو کښی تکنیشنانو او نورو همکارانو لپاره د توافق او د هغوی د کار د اندازی په پام کښی نیولو سره حق الزحمه تادیه کیږی.
28. د پوهنتون د تحقیقاتو مرکز بودجه د پوهنتون د عمومی بودجی برخه ده او د کال په عملیاتی پلان کښي انعکاس مومی.
29. پوهنتون کولای شی د څیړنیزو طرحو د اجراء پمنظور د لوړو زده کړو وزارت د اصولو سره سم داخلی او خارجی محققین استخدام کړی.
30. استاد ته د حق التحقیق مبلغ د هغه د څیړنی د اهمیت، ماهیت، ارزش او څرنگوالی په پام کښی نیولو سره تادیه کیږی.

د خراسان پوهنتون د علمي څیړنو پالیسي ددې پوهنتون د علمي شورا په (۵/ اسد/ ۱۴۰۰ ) تاریخي غونډه کې مطرح ، درائیو په یووالي سره تائید او په (۵) شماره پروتوکول کې ثبت ده.